د لمبو کلی

د شعرونو مجموعه

Ketabton.com

اسدالله «زمری»

کال 2000/۱۳۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	: د لمبو کلی
شاعر	: اسدالله زمری
د چاپ تاریخ	: ۱۳۷۹
لمړی چاپ	: ۱۳۷۹
تیراژ	: ۵۰۰ جلد

اهداء

زما سوځیدلو کلیوالو ته !

د انټرنيټ په مخ ترتيب او ډيزاين کوونکې : مړوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکروټې

دزړه تنور کې مې سکروټې دي بلیږي پسې
په سر پرتې مې درنې ګټې دي درنیږي پسې
د وخت ځپیرې راوریږي مې د روح په رخسار
په تن راوښتې راته ختې دي پلنیږي پسې

92/10/26

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه او کرکه

دژوندانه دترخوزهرو....

له سرو وینو ډک دی !

دزمانی دکړاوونو په منګلو کښی ښکیل،

چی ددی سوی ګوګل تنګ محیط ئې لا ښکیکاږی

ورته حیران یمه زه

چی دی یوه موټی دغوښو اورګونو ټوټی،

ټولی نړی نه لادرنه او ستره

له ښو او ښکلو سره،او له بدیو ځینی

څنګه دا ستره مینه؟

څنګه دالویه کرکه؟

سره یوکړی او ځای کړی ئې ده خپل زړګی کې؛

پدی وړوکی ځای کې.

ورته حیران یمه زه؛

ورته حیرانه نړی....

۲/۱۴/ ۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هجرت شپه

خدایه څومره دی اوږده د غم دا شپه شوه

له پیرۍ نه ئې اوږ ده هره شیبه شوه

ورته عمر د عیسی زغم د یونس را

چې مې ډکه د زړګې د زغم کاسه شوه

۹۳/۸/۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان

اور پری بل ؤ له پخوا نه خو اوس سکور شو

د نیستي غرېئی په درست جهان کی خپور شو

تول د مرګ او بد بختی فریاد فریاد شو

خوږ وطن می، دی خوارېه ولس ته ګور شو

۲۲/۸/۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان مهاجر

لــه وطن نه لری پـروت یـم لـکـه مړي

د غـمـونـو تـور توفـان پـه مـخـه کړي

شی هر قدم چي ږدم غزي می په پــښو

یتړی دغربت د ژوندون بارکړم ستړی

۲۲/ ۸/۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان ولس ګرېډه

د کاله په انګړ کډه راته مرګی شو
د کلو د سر دښمن مې سکنی شو
نه مې وس د کوم پاڅون شته، نه د ناستې
د وطن هر یو قدم مې تورلوګی شو

۹۳/۸/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طاعون په کام کې

نه د مرګ د پنجو ښکار شوم نه ژوندی یم

د وطـن د کنډوالو یو تـور کودی یـم

د غربت د طاعون کام کې یـم لـویـدلـی

په دې لوی جهان کې ټولو ته پردی یم

۸/۲۲/۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال

په وطن مو راخپره توره و باده

په هر کور کې ده د مرګ او ویر ژړا ده

د نوکرو نوکران مو باداران شول

خدایه دا مو بیا د کوم جرم سزا ده

۹۳/۸/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطنه!

داد دځمکی په سر جوړ جنت: آلمان کې

لکه پروت چې یم دغم په تور زندان کې

نه غریبي یې لیدو ته زما سترګې

همیشه دی یم وطنه په آرمان کې

دتا مینی مې په ټول بدن ،اوربل کړ

دسوز چیغه می خوره شوه په آسمان کې

ستا په یاد می دزړه وینی و هی داری

راته سوزی می هډونه ستا هجران کې

چی به نوم دخپل وطن وربانده کیږدی

داسی ځای به پیدانه کړی ټول جهان کې

۹۳/۸/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

لويه خدايه

خــلیــفه کــړ تا پــخپــله په جهان کې
تااشرف المخلـوقات کړ پــه قـــرآن کې
اوس چې سوځي تل درنګ، نژاد توپیر کې
دادې څه نـفرت ګډ کړی پــه انســان کې
ورور دی وواژه دورور پــه لاس په کــرکه
داوحشت خومونده نه شي په حیـــوان کې
چې دې ورک کړ دنیستۍ په تور ګرداب کې
څه ګناه دې وه لیــدلي پــه افـغــان کې
کــه دې جــوړ زما وطــن ځیــنی دوزخ کړ
ماکــړه بنــخ ددې دوزخ په ګورســتان کې

۹۳/۸/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوښکو تکل

تو دې اوښکې مې له ستر ګو وهی داری
بــنــدوی ئې نشــی هیڅ د بڼو باری
د نــظــر بـه مــخ پـردې راته راکاږی
راتـــه ښــئــې دوطـن دتــلــلو لاری

۹۳/۹/۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

دزماني ناخوالي

که هر څومی دژوند شپې ورځې شي تیرې

ناخوالې دزمانې مې نه شي هیرې

نه سکون کې په قراریم نه سفرکې

نه پوهیږم چې وتښتمه چیرې

مرګ نه نه لرمه ویره هیڅ قسم دې

چاپیر کړی یم دژوند دساتو ویرې

دوطن خوږوالی اوس راته څرګند شو

دغربت بلا چې شوی رانه چاپیرې

دخپل وران وطن ایره به پری ورنکړم

که هر څومره شي ښکلاوې دلته ډیرې

۹۳/۹/۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوطن په یاد

که مې نصیب شی یو ځل بیا کله دیدار دطن

غیږ کې به کښیکاږم هر بوټی او خار دوطن

دبل په ملک کې که جنت وی شپه مې نه تیریږی

د نورو قصر نه بهتر دی تور مزار د وطن

تر څو به سوزم د غربت په تناره: المان کی

خدایه او به مې کړی په بوټو د ګلزار د وطن

ښکلی وطن، مغزور ولس مې نن تالا والاشو

ورک شو هغه چې ئې اخیستی دی ازار و طن

زړه راته وائې چې ځه والو زه په غرو، رغونو

ګوندی پیدا کړی سر د روکی چیرته لار د وطن

ای د ملکونو خدایه !ای د دی دنیا مالکه !

کله به یو کړی د افغان ولس په کار د وطن ؟

۹۳/۹/۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته او هلته

دلته چې وینم ټول وطن دی په ګلونوکــــې ډوب
یاد ته مې راشي خپل هیواد چې دی سرو وینـوکې ډوب
دلـــتـــه اســــمـــان تـــه دختـــلـوتـکلـونـه کـیـږی
زمـا ولـس د شــهـیـــدانـــوپـــه قـــبــرونـــو کــې ډوب
دلـتـه د ژونـد لـپاره هـڅـې کـیـږی شـپـه او ورځ کـې
هـلـتـه واړه زاړه ، ځـوانـان دي ټـول مـرګـونو کې ډوب
دلـتـه مـقام نـه د انـسـان سـتـره نـمـانـځـنه کـیـږی
هــلــتـه هــر څـه دي د وحشـت پـه تـورتـمـونوکې ډوب
دلـتـه ځـاریـږی،یـو د بـل نـه تـش د «مـیـنـې» پـه نوم
هـلـتـه دوه ورونـه پـه کـیـنو او نـفــرتـونـوکـې ډوب
کلـه بـه ورسـیـږی پـای تـه دافــغـان غـمـیــــزه ؟
کلــه بــه هــم زمــونـږ هـیـواد شـي سرودونو کې ډوب

۱۹۹۳/۹/۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

آشنا

ته مې يې د مينې الهه ته مې مولا د زړه
ته يې تلوسه زما او ته مې يې ، سودا د زړه
ته د محبت د باغ گلونو ته د رنگ جلوه
ته مې يې د ژوند بهانه ، ته مې مسيحا دزړه
ته ښکلې نغمه يې چې د روح په گوتو جوړه يې
ته يې ترنم ، ته ترانه ، ته مې غوغا دزړه
ته د کوه قاف پرۍ او ته يې د جنت حوره
ته مې د خوښيو جام او ته مې يې سوما دزړه
تاته دې خوښۍ شي ددنيا او د عقبې نصيب
ته چې مې په غم د زمانې کې ئې اشنا د زړه

۱۹۹۳/۹/۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنت او دوزخ

دې آزادۍ نه خپل زندان ښه دی
له دې ګلشن نه خپل ډیران ښه دی
که جرمني دی د دې ځمکې جنت
ترینه دوزخ: افغانستان ښه دی

۱۹۹۳/۹/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نیشې خوند

ځان مې په خم کې د شرابو لمبول غواړم
دا ډیر غمونه د دنیا لږ هیرول غواړم

د عمر تږی، د زمان د دښتو ستړی کوچی
یو ځل مې ژوند کې دغه تنده ماتول غواړم

ځینو ته یو څاڅکی شراب هم د کاسو ځای لري
زه یې موجونو کې د خپل سر آزمویيل غواړم

یم له ساقي نه پوروړی د شرابو یو جام
د بل له پاره یې د ځان مریې کول غواړم

خمار ځپلي ته معلوم دی سچه خوند د نیشې
د زړه په ژبه د مغزونو پوهول غواړم

سترگه د جام که د مینا لاری ته تکه سره شوه
زه یې د سرو شونډو خندا کې ښکلول غواړم

کومه نغمه چې خدای ځای کړې د ښیښې په خوله کې
د احساس غوږ باندی یې روح ته اورول غواړم

د سرو شرابو لږ غندل هم نا پوهي ده ډیره
هوښیار سړی یمه په سر یې اړول غواړم

۱۹۹۳/۹/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته او دلته

هلته له هری خوا باران غوندی مرګونه اوری
دلته چې هر لوری ته ګوری سره ګلونه اوری
هلته لمبی او لوګی خیږی د افغان له کوره
دلته فضا ،ځمکه ، اوبو باندی عطرونه اوری
هلته د وینو تور سیلاب دی ټول ولس اخیستی
دلته اختر دی، د ژوندون ښکلی رنګونه اوری
هلته د اوښکو په توفان کې یو ولس ډوبیږی
دلته کوڅه په کوڅه، کور په کور خوندونه اوری
هلته توپک غړیږي ، ژبه د انسان ګونګه ده
دلته د سولی سیوری خپور دی سرودونه اوری
هلته کړیږی انسانان د جنګ په سره دوزخ کې
دلته په دې دنیا هم واړه جنتونه اوری
هلته نازل هم د خالق هم د مخلوق غضب دی
دلته د قهر پر ځای هم د خدای رحمونه اوری
هلته سوځیږی د کلتور پښی د جهل اور کې
دلته د شرق له وریځو جوړ لوړ فرهنګونه اوری
ای د افغان ستره ملته لږ را وخوځیږه !
په تا د پلار او د نیکونو پیغورونه اوری

۱۹۹۳/۹/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وحشت دیو

دا څه حالت دی چې دې نوی چنګیز راوسته په کور د افغان
دیو د وحشت دی یاغی شوی په هر لور د افغان
هر څه تالا کړل ددې سپینې بلا سرو لاسونو
ګور کې نا ارامه دی هر پلار او هره مورد افغان

۹۳/۹/۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه سوز

که مې یوه شیبه د زړه سوز کوم قلم واخلی
لکه د شمعی به اور، سر نه تر قدم وا خلی
چې هم جهان ، هم مې جانان له ځانه ورټلم
څوک به زما له اوربو دغو مره درونډ غم واخلی
یو ځل به نه شی د مراد غوټۍ ګلونه کله
د ژوند نیالګی که مې د غم له اوښکو نم واخلی
د حوادثو توفانونو مې کړه کړله ملا
څراغ د عمر به مې څنګه تاب او دم واخـــلی
د حسرتو پنجې به راکاږی مرئ د امید
د زمانی دیو چې مې هیلو ځـینــې دم واخلی

۹۳/۹/۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حسرت اوښکه

او ښکه د حسرت چې د غم سترګې نه جدا شوله
سوز ته د زړګي یې په ژړا خپله ژړا شوله
و دریده، وریږدیده، وښوئېده خاوروتـــه
سترګو د احساس ته د ماتم د مخ ښکلا شوله
عمر ته یې، نیم نفس ،خندلو ته خوله جوړه کړه
شوندې یې ترلې وی چې لاړله فنا شوله
جوړه ترانه شوه د بسل مرۍ کې بنـــده وه
ښکلې دردانه شوه د صدف د زړه بلا شوله
پټې تویوه اوښکې زمریه د ګوګل تــل ته
اور به ورنه واخلې که خبره تری دنیا شوله

۹۳/۱۰/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه

سره اوښکه د غم وم چې په مخ د دنیا پریوتم
پرخه د سحر شومه په غرو او صحرا پریوتم
یو سوی فریاد وم له درد من زړه نه را پورته وم
دود د اوسیلو شومه په مخ د رڼا پریوتم
مات ساز د ماتم وم د ویر کور کې غریدم غلی
سوز د غمجن زړه شوم په لیمو د ژړا پریوتم
هیره افسانه وم له غوږونو او له خولو پاتی
پته خزانه شوم وران انګړ کې د چا پریوتم
لوند خیری ګریوان وم د زخمي ټټر په وینو سور
خیری لنګوټی شوم په اوږو د ګدا پریوتم
زه د مات بانه په خیر اغزی د چا د سترګو وم
تور لا چي لونګ شوم، خو اوربل نه جدا پریوتم
بخت دی که تقدیر او که خالق مې ځوروی ځله؟
غیږ کې د جانان که بی خبر له عقبا پریوتم
مست ګرځي یارانو د خوښیو پیمانې په لاس
خیر دی که زه لاړم په پنجو د بلا پریوتم

۹۳/۱۰/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مینه

جانانه راکړه د سرو شونډو پیمانه په مینه
چې کړمه هیره د غمونو زمانه په مینه
د شونډو جام کې دی د مینې شراب راکړه په خوند
د حسن شمعې چې دې شمه پروانه په مینه
راکړه عسل د خوږو شونډو درنه وګرځمه
راته مې ماته کړه د تریخ ژوند زولانه په مینه
مست مې کړه داسې چې خوبیو کې شم ډوب له شوقه
څو درته واوروم د مینې ترانه په مـیـنــه
راکړه چې ماتې نه کړم بیا کله توبې له میو
څـو پاتې نه شی د شرابو بهانه ، پـه مـیـنـه
ته یې شراب، ته یې د بنګو پیاله ، ته یې سوما
د تا له پاره یم دیره په میخانه پـه مـیـنـه

۱۰/۱۵/۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

ستا د مینې په هر خم کې ډېر سوزونه ،ډېر خوندونه
ستا د حسن په جلوو کې، سرې سکروټې-انګارونه
ستا د قهر په انګار کې، د عاشق د سوځېدو اور
ستا د ناز په لطافت کې د وریښمو خروارونه
ستا د مخ د رنګ په باغ کې، د ګلونو باغچې ټولې
ستا د زلفو په تیارو کې ، توری شپې او تورتمونه
ستا د سترګو په ګردش کې،ددنیا د خوځېدو راز
په ښکلا کې یې ویدې دې هوسۍ ګانې، نرګسونه
ستا د غاړې له مینا نه، د مینا غاړه ده ماته
ستا د قد په رسایۍ کې ټولې سروې-شمشادونه
ستا د غږله ولولو نه، زما روح ته آرام راشي
ستا د سرو شونډو په خوند کې دي سوماوې، شرابونه

۹۳/۱۰/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه

د خوښۍ برخه کې مې غم ولېږه
ما غمځپلي ته همدم ولېږه
بل چاته نه ټیټېږي لویه خدایه
زما سجدو ته یو صنم ولېږه !
له وچ ګوګل نه مې لمبې جګېږي
لږ یې تسل: د اوښکو نم ولېږه
د زړه داغونه بل علاج نه لري
ورته د خپل وصل ملهم ولېږه
ستا د هجران لحظې کلونه ښکاري
یا خپله راشه ، یا لږ زغم ولېږه
چې مې د ژوند اسره دتا مینه شوه
اوس یې بقا ته خپل کرم ولېږه

۹۳/۱۰/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

شيبې

څومره شوې اوږدې د انتظار شيبې
ورکې شوې تيارو کې د سهار شيبې
وصل که هجران که دواړه سوځي ما ؟
کومې دي خاونده د قرار شيبې ؟!
محوه دې وم زه ، په تلو دې پوه نه شوم
څومره دې خوږې وې د ديدار شيبې
ما درته د زړه دراز ويل غوښتل
لاړې مې له لاسه د اظهار شيبې
څو مې دی ليمو کې ستا تصوير تازه
ښکاره راته هر وخت د بهار شيبې
يو ځل که دې بيا په سترګو ووينم
ستا د هجر ورځې دي د دار شيبې

۹۳/۱۰/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیند پري

چې مې د او ښکو په موجونو کې پیدا کړلې ته
د سیند پريې وی ما د خپل عشق مولا کړلې ته
د جنت حوره د بش ر په بڼه راغلې ماته
ما د ژوندون و تروږمیو ته رڼا کړلې ته

۹۳/۱۰/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویره

اوښکې مې په مخ چې د هجران له ویرې غلې ځي
زړه ته مې څه وایې په ګریوان له ویرې غلې ځي
شور د محبت مې دې ساتلی په مغزو کې پټ
کریکه د جنون مې په بیابان له ویرې غلې ځی
سترې شوم لټون کې ستا ثاني مې پیدا نه کړله
سترګې مې په ننګ د دې ارمان له ویرې غلې ځي
تا چې یوه ورځ کله ونه وینم سوځیږمه
چیغه مې له سوزه تر آسمان له ویرې غلې ځي
اوښکو غمازي کوله ، موړ دی په دیدن نه شوم
تنده د دیدار مې په شریان له ویرې غلې ځي
ویره مې د تا د پاکې مینې رسوایې کې ده
ما رسوا نه ویره په میدان له ویرې غلې ځي

۱۰/۲۷/ ۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه لمن

د زړه لمن کې مې داغونه پراته
پکې جهان جهان غمونه پراته
د ليونتوب له کانو ډکه ښکاري
که دي د تا دميني غرونه پراته
هرى اداء دې دى پرې اوربل کړى
له هره نـــازه دې ګلونه پراته
چې مې څولۍ کړله د وصل خير ته
ورکې د اوښکو امېلونه پراته
اورئې اخيستى دى له خپله لاسه
ورته دي سوي ارمانونه پراته
لږ دى قدم پکى په پام جګوه
دلته د هيلو دي مات زړونه پراته

۹۳/۱۱/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ ګواښونه

ای د جنت حورې ته که ما باندې نازونه کړی
زړه ته مې پام ساته ،مات د هیلو به مې زړونه کړی
تا چې له غرور نه د لمر تیک په تندې ووا هه
خو به را خــپاره په دې سوالګرو تورتمونه کړی
تانه که جلوی د پسرلیو رنګ او بوی آخلی
پام ! چــې او سیلې مې د خزان ساړه بادونه کړی
لاس د لوټماری که د زړښت اوږد شو د تا په لور
ما تـــــه ځوانیمرګ به ټول د وصل تکلونه کړی
را شه چې امید مې ژوندون په پښو ودریږی
ځو به په فراق کې ما ته ژوند د مرګ ګواښونه کړی

۹۳/۱۱/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوري

کله چې له خاورو سره خاورې مې هډونه شي
هره یوه ذره به ئې ستا راتللو ته ګلونه شي
ګرد زما د خاورو که دې پریوت د رخسار په ګل
خاورو کې به سره ، زما له شرمه رخسا رونه شي

۹۳/۱۱/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

واده

که سُوري مې له حالاتــو نــه لــړمون دئ

رانــه ورک نــن او ســبــا او که پروندئ

خـــوچـــې تــه مـــې ئې په خواکې زما مینی

له خوښۍ او ښوکالۍ مې ډک ژوندون دئ

۹۳/۱۱/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلمبو فواري

ای بې روحه ، بې احساسه سړې ځمکې !

داسوراور د دې ساتـــلې ځـلـه زړه کې؟

فــــواري بــــه دلمــبو وي جوړې کــړې

چې مې مور کښیوته ستا په تیاره تـلـه کې

۹۳/۱۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور د مړینې سوال

په محشر کې چې ژوندي بیا ټول جهان شي
هر مخلوق لپاره جوړ ستـــر امتـــحان شي
زه بــــه سوال د خــپلې مور ور ځنې وکړم
خپله خدای به مې ځواب ته هک حیران شي

۹۳/۱۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعجب

په یوه سپرغۍ مې چیغه ځي آسمان ته

په یو وور خوږ وایم اور ورکړم جهان ته

څنګه دود او ایره نـه شو دمور مرګ کې

زه حیران یمـه دا خپل ناتـــوانه ځان ته

۹۳/۱۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور په غم کې

ای سیندونو زه له تاسي نه څه غواړم !

ټول شی وچ چې زه د مور په ویر کې ژاړم

که مې ډوبه شوه د نیا او ښکو کې ټوله

زه ګرم نه یم چې ئې په غم له ځانه لاړم

۹۳/۱۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل کور کې مسافره

مسافره ورنه لاړل اولادونه
شوه یوازې، لور په لورئې کړاوونه
نه څوک پاتې شول چې وئې پوښتي حال تری
چې ټکور ئې کړي د زړه ژور زخمونه
نه چې پاکې ئې کړي ترمې ترمې اوښکې
په زخمي روح باندې ئې وا وښتل غمونه
تنګ کوګل کې ئې نفس په سوځيدو شو
په بیمار بدن ئې راغلل سخت دردونه
په سختیو کې ئې ویلی حوصله شوه
شول ئې بند سوی سینه کې فریادونه
بیکسۍ کې مرګ تری هم حیا ونه کړه
نامردۍ کې ئې پرې وکړل ګوزارونه

۹۳/۱۲/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مور

د دنــــیا غــــمــــونه ئــــې واچول په زړه کې

زړا غــــزی شول ورته شــــنه په هریو پله کې

د مرګــــی بلا پــــرې نــــه ښــــوده نفس ته

د زړه پاتې ئې شول په زړه، د خولی په خوله کې

۹۳/۱۲/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما دعا

تور لـحـد دې څراغانشه زما مـــورې

په محشر دې مل سبحان شه زما مورې

جنـــتـــونه دې پښو لاندی پـــراتـــه وه

په فردوس کی دې مکان شه زما مورې

۹۳/۱۲/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما قسمت

ای خاونده ددې دواړو جهانونو
لوغړن کړم دژوندون ډیرو غمونو
بې له او ښکو مې بل څه نه دي لیدلي
کړ مې ستونی څیری ډیرو فریادونو
د ځوانۍ په فصل پوه نه شوم چې کوم وو
یم ګیر شوی د زړښت په عذابونو
زما برخه خوشحالي دی کړه دنورو
کړ نصیب دې زما غم د څو نسلونو
دې انصاف ته زه حیران یمه خاونده
کړ قسمت دی راته ډک له ماتمونو
چې به کله لا رښا په ما دا شپې شي
نور خو وړوند کړمه بی پایه تورتمونو

۹۳/۱۲/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددنیا غمونه

څوروي مې د دنیا غمونه څومره ؟
خوځوي مې د زړګي دردونه څومره؟
د غربت په مصیبت کې یم ګیر شوی
سوځوي مې د نیستۍ اورونه څومره؟
د ژوندون خوښۍ مې ونه لیدله کله
ډوبوي مې د وحشت موجونه څومره؟
ددنیا په مخ په توره جامه ګرځم
شرموي مې دعقبا ننګونه څومره؟
نه شوم یار او نه اغیار د چا په ژوند کې
کړوي کې د خپل ځان فکرونه څومره؟
چې به کله لا رسیږي خپل آخرته
دردوي مې هر نفس ، هڅونه څومره ؟

۹۳/۱۲/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطن سوزان

برېتونو وطن وسوزاوه ږېرو او
څه بې دينو څه د دين ټيکه دارانو
راخپري وی تر څو دغه توری وريځی
باران د تودو وينو سور خود به اوری

۹۴/۱/۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

شراب

ځکه نوم ورباندې ایښی چا «شراب» دی
چې ترکیب کې یې څه« شر» او یو څه «آب» دی
لا دې شونډو ته ور وړې یو ګوټ نه وي
چې جوړ کړی دې دې شر تللی دې آب دی

۹۳/۱/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بل زړه

ای خالقه د هــرچا د قسمتونـــــو
ای ویشونکیه د خوښیو او غمونو
راته راکړه یو بل زړه پاتی ژوندون ته
زوړ مې ویلې شو له ډیرو کړاوونو

۹۴/۱/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

بر تر بور

هر سحر مشرق په خپلو وینو سور دی
د تاراج او تباهۍ یو بل تنور دی
د مغرب لمن دده په وینو سره شوه
دی یې ستر خوني دښمن او بد تر بور دی

۱۸/۱/۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیلو کلی

راشه ته زما دسوی زړه کوربه شه
ښکلې هیلې په خپل کلي کې دیره شه
د صدف په څیر به خپلی وینی درکړم
ته زما د آرمانونو دردانه شه

۹۴/۲/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاشخور

د وطن په تن مې بل د ځګرې اور دی
سو ځیدلی د زوی مرګ کې پلار او مور دی
د وحشیانو پاچاهۍ کې هر څه لوټ شول
مجاهد مې د مظلوم ولس لاشخور دی

۹۴/۲/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرله پسې فاجعې

اور دې بل کړ د افغان ولس په کور
څه دې کیوسته بیا تل ته د تور ګور
آواره دې د جهان په هره خوا کړ
خدایه څه به لا وروښیئ ته نور ؟!

۹۴/۲/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وطن پسرلی

پسرلی دی هره خوا ګلان غوړیږي
د رنګونو او ښکلا محشر جوړیږي
زما وران وطن کې ګل او شنیلی نشته
چې د وینو سور باران پری راوریږی

۹۴/۳/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

محشر

غړېدلې ده شپېلۍ د ستر محشر
چې وطن شو د افغان زیر او زبر
هر انسان دی پکې څو ځلې مړ شوی
هرې لوېشتې نه جوړ شوی دی سقر

۹۴/۳/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوار شوی افغان

خدایه ښنګه دې کړه ، خوار عظیم افغان
چې نوکر شو د ایران او پاکستان
دوی چې نه نیول هیڅ چا په نوکرۍ هم
دې بې ننګو کړل زمونږه بادار ان

۹۴/۳/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجاهد له لاسه

دی د سوال کټرې ته ناست او س ستر افغان
ده محتاج کړ د ایران او پاکستان
لعنتونه د تاریخ پری را اوریږي
مجاهد شو بې غیرت او بې ایمان

۹۴/۳/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطندارته

وطنداره له سوري زړه نه دې جار شم
ستا د هرې سلګۍ سوز ته سور انګار شم
د وطن او هر عزيز په داغ کې وسوې
کاشکې ستا د درد دوا ته لړ په کار شم

۹۴/۳/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما اوښکې

د زمان تیارو ته اوراخلی ، رڼیږي
د غمو اورته سوځیږي او بلیږي
زما اوښکې بې قیمته دردانې دي
په هر درد کې مې د زړه په حال پوهیږي

۹۴/۵/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې چارګي

بار د ژوندانه مې راته ماته غبرګه ملا کړله
يار مې هم له څنګه شو ګوښه ، راته ئې شا کړله
څه به په تودو اوښکو د زړه سکروټې تورم(۱)
کله چا ژړا د لوغړن د ټپ دوا کړله ؟!

تورول=لمسول/راوېښول

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوی ګلبوټي

زمونږ اوښکو سمندر قوی څپه نه لري ؟!
که مو د غم ونه په دې ساحل ریښه نه لري ؟!
ماو یل دنیا به په سر واخلي د جنون په لاسو
خو مو د کریکو سوز د چا غوږ ته اسره نه لري
اوس به یې ایستی وه زوږ بیخ د غم لړلې نړۍ
خو مو توفان د اوسیلیو ولوله نه لري
د ژوندانه لاری تړلې دي زموږ کیږدۍ ته
خو د مرګونو قافله بل ځای دمه نه لري
پریږده چې وسپړي زمونږ د ژوند اغزی ګلونه
زمونږ د ملک سوی ګلبوټي خو نوده نه لري

۹۴/۱۲/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سو ځیدو سوال

کنګل کې و سوځم که په لمبو کې و سوځم ؟
حیران یم چې د ژوند کومو لمحو کې وسوځم ؟
بندي یم ددنیا د ناخوالیو په زندان کې
ترڅو ددی تنور د اور څپو کې و سوځم ؟
دردونه ، حسرتونه ، ارمانونه، سل غمونه
د کوم یو په لمبو د چا ایرو کې و سوځم ؟
خوږلن د محبت کې لوغړن د وخت غماز کړم
ددې کان د یا قوت کومو جلوو کې وسوځم ؟
ته ځه د خیال جهان ته د خیالونو په څپو کې
ما پرېږده چې د وخت رنځو لیمو کې و سوځم
که خاوری او ایرې شمه ، وجود مې پو پناه شي
دیدن ته به د تا ، په تپېدو کې وسوځم
د حسن دې توفان ته د یو زړه دودول څه دي
راځه چې سر ترپایه یې پښو کې و سوځم

۹۴/۱۲/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګ

ننګیالــیــو تــه خو دغه ژوندون ننګ دی
په نیکونو ئې لــه نــنګه ګــور هم تنګ دی
غلامان دی شول ځوانان او پیغلې مینځې
د افغان ولسه وخت دی دغــور ځــنګ دی

۹۴/۱۲/۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنفاق ثمر

افغانانو سره یوکړی خپل لاسونه

سره وشلوی د شرم ځنځیرونه

دنفاق ثمر مو ولیدد په سترګو

د دې شوم نیالګي راوباسئ بیخونه

۹۳/۱۲/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانه پاڅه

پاڅه پاڅه ای افغانه په پښـــو شه !

لړېږه فکر کې دننګ اود پـــښـــتوشه

د دیوانو د داړلو غابښ ورمـات کړه

ژغورندوی دخپل ټا ټوبی او بچوشه

۹۳/۱۲/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننی مجاهد

د فساد استاد ، د جهل ښه شاګرد دی
لوی قاتل ، وحشي حیوان او ښه زاهد دی
د پردیو ښه غلام د ځان دښمن دی
ښه یې و پیژنې دا شئ مجاهد دی

۹۴/۱۲/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرګه

ناخوالی دې زما چې په سلګو منلي دي

د تا تر خې ګیلې ما په لیمو منلي دي

د وصل د کعبې زیارت د تا چې مې نصیب شو

میرې مې د دې لارې په باغو منلي دي

سفر د ژوندانه کې چې مې ستا سترګې ډیوې دي

تیاری مې د سختیو په سپیدو منلي دي

د تا سلامتیا ته په ورو ورو دودیدل څه دي

ما سول د تا نظر ته په لبو منلي دي

د مینې اندازه دی یو زما زړګی ته لګی

چې غرونه د دنیائی په اوږو منلي دي

له زړه نه دې قربان شم چی زما غمو نو وخوړ

خوښی دې هم زما په مسېدو منلي دي

د هیلو د کاروان جرس د عذر پړه غواړی

رتلي دګناهو په جرګو منلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرب شفق

دا د شرق دو ینو رنګ دی چې د غرب په لمن ښکاري
دا د شرق تالا ګلان دي چې د غرب په لمن ښکاري
د سپیرو میرو په تاو کې ، هلته هره تیږه سوځي
دا د شرق د مټ قوت دی چې د غرب په عدن ښکاري
د باروتو تور لوګی دی ،چې د شرق له کاله خیږي
د لمبو روښانه رنګ دی چې د غرب په ګلشن ښکاري
د جلی د او ښکو موج دی چې بهیږي په دوناو کې
د پا میر د سر شمله ده چې د غرب په بدن ښکاري
د افغان -هندو په وینو هندوکش- ایوریست غرق شول
د کشمیر دنافی بوی دی چې د غرب په ختن ښکاري
د ویتنام- کوریا په تن لا د بمو نو چری خښې
د چیچن-ایران انسان دی چې د غرب په خوړلن ښکاري
ورغلی سره نه دی د عرب د زخم شونډې
د تاجیک- سیلون مړ زوی دی چې د غرب په درشن ښکاري
د راکټو قافلی دي چې روانې دي تل شرق ته
دا دوینو تور امیل دی چې د غرب په ګردن ښکاري
د جنګ اور باندی ئې جوړ کړ ، له دنیا ځینې دوزخ نن
د ګناه نه ډک جنت دی چې د غرب په وطن ښکاري

۹۵/۱/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرنه

بیا دی په سترګو کې د وصل تلوسې وکړه
بیا مې دزړه په سر ، داور بلې لمبې وکړه
بیا راته راکړه د ژوندون اوبه د شونډو جام کې
بیا مې د مړو هیلو په قبر ، ولولې وکړه
بیا دی د غږ په ترنم باندی عالم ژوندی کړه
د اسرافیل غوږ کې د مینې ترانې وکړه
بیا دی رسا ونه د عمر باغ کې وغوړوه
بیا د شمشاد په تن د سره حسرت نودې وکړه
بیا د خپاره کړه د ویښتو د ولونو ټول ګلونه
بیا په دنیا باندی د رنګ او بوی غنچې وکړه
بیا دی د حسن مرغلرې په نازو وپیيه
په ټولو بیا دی د داغونو قافلې وکړه
بیا مې په مینه خواته راشه، بیا مې خپل کړه د ځان
زما په ټول بدن د مینې کلمې وکړه
د بې مثاله ښکلا باغ دی تل بهار بهار شه
د وخت غازته په هر ګام کې زولانې وکړه

۹۵/۱/۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی مړی

هره هڅه مې رټلې، هره هیله مې ناکامه
هرنظر مې نا منلی، هره مینه مې ناکامه
دنامرادو امیدونو د قبرو په خاورو پروت یم
زه یم خپله ژوندی مړی، خپله مړینه مې ناکامه

۹۵/۲/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینې داغ

د شهید زړه په جنازې باندې مې هیلې ژاړي
اوښکو اخیستی په سرملک دی سترګې وینې ژاړي

د نامرادۍ د تور خنجر په لاس سوری ، سوری دی
د بیکسۍ د زهرو جام کې ورته مړینې ژاړي

غني کاروان د امیدو یې په رڼا ورځ لوټ شو
شوی تلو سې ئې د مرګي په غم غمګینې ژاړي

د درد له تاوه د سینې قبر کې مړ ، تپیږي
په سوی حال ئې د ځیګر غوښې شوې خورینې ژاړي

خواږه یادونه ئې له سره په ژړا ووتل
د مینې داغ چې په تندي د ماه جبینې ژاړي

۹۵/۲/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وفا عرش

د هجران په تروږمۍ کې د تا یاد راته ډیوه شي
د رڼا هره شغله ئې ، د غم زړه باندی نیزه شي
هیروم دی را یادیږې ، تل مې ذهن کې رغړیږې
ستا نا خوالې مې په زړه کې د سره اور بله لمبه شي
د وصال هیله دې لاړه ، لکه تا هغومره لیرې
په کوم زړه به بیا زما ، دې غریبی کورته میلمه شی
یو ځل بیا راشه په مینه ، راته جوړ مې وران جهان کړه
د وفا د عرش له پاسه دې د تا ځلی ښکاره شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بی حایه خواري

لمر په دوو ګوتو ستا ، چیرې پټیدای نه شی
ځان دې غولوې ولې ، مینه پټیدای نه شي
سل که زړه ته ووائې: لاړه دلدار هیر ئې کړه
څوک چې وی د زړه څښتن هغه هیریدای نه شې

۹۶/۱/۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

سو ځیدل

څه د مینی په خوږلن او انګار وسوم
څه د هجر په لمبو کې دلدار وسوم
چې ژوندون مې لکه شمعه سوځیدل دي
څه به وایم چې مې یار که اغیار وسوم

۹۶/۲/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هجران غم

که را ټول شي ټول غمونه د جهان
بیا هم نه رسیږي غم ته د هجران
زړه کړ خت کړي لکه یخ د سلسبیل
ددوزخ په اور کې سو ځوي انسان

۹۶/۱۲/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

منزل او تسل

ستا د زلفو په هر تار کې هزار ولونه ، هزار زړونه
په کې ورکې کړي زړه لارې ، به کې ستړي شي مزلونه
له کاکل او له اوربل نه دې لوګی شمه ای ښکلې
چې مې دي نظر او زړه ته ،سر منزل او تسلونه

۹۶/۳/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج محل

تل دې یاد د شوخو سترګو زما مل دی
چې مې ځاله د خیالونو ، ستا اوربل دی
چې زما د پاکې مینې ملکه شوې
زما زړه د تا د مینې تاج محل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو افغان ځلمي سلګۍ

وړ کتوب مې نه یادیږي ،ځلمیتوب باندې بوه نه شوم
د زړښت په لار روان یم ، دي لرزان مې قدمونه
زما کلي کې تل بل وو د نفرت سوځند اورونه
زما کور ته تل پراته وو د کینې تور ځنځیرونه
زه ویده وم په اغزو کې ،ما پالنګ لیدلی نه دی
زما سر لاندې وه تیږه ، نه بالښت ،نه مړوندونه
زما هره هیله سترې، زما هر تکل ناکامه
زه ناکام یم پیدا شوی چې ناکام مې دي کامونه
سو ځیدل که کړیدل دي،که ژړاوې دي که ساندې
که ماتم دی، که ځګیروي دي،دي زما پخواني ملونه
زه له ګل سره پردی یم، پسرلی ته نا اشنا یم
د خزان ائینه کې وینم ، زه مې خپل ساړه آهونه
خوښی څه ده؟خندا څه ده؟ شوق او ذوق څه شي ته وائی
زه د غم په کاله لوی یم ، ما ته مړه دي دا نومونه
ځوک خوښیو کې لوییږي، څوک اوسیږي په جنت کې
خو زما یوی سلګۍ ته ، کم دي واړه دوزخونه

۴/۱۵/۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینې حال

و دی سوم وصال باندی ، دود دی په هجران کړمه
حال د لیونۍ مینې ، څنګه دی بیان کړمه ؟!
نه دی وه وعده پرځای ، نه دی انتظار تمام
څوک به مې فریاد واوری ،څیری که ګریوان کړمه
نه دی ښاپیری سیالی ،نه هم د جنت حورې
ای د یار یکتا حسنه !ځان ته دی حیران کړمه
نیم نظر کتو ته دې ، ټول عمر تپیږمه
ستا پوره نظر نه به ،خپل ژوندون قربان کړمه
ته ای د ختن هوسۍ ،مه تریږه زړه نه مې
څو چې دا وحشی زمری ، تاته په فرمان کړمه

۱۹۹۷/۵/۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظر

ستا یا مې د مینې مرغلره ده
ستا خیال مې د زړه خوږه سندره ده
او ښکه مې له سوزه زړه کې وچه شي
غم کې دې له ټولو مروره ده
کله به له زړه نه راشی سترګو ته؟
دغه مې د ژوند خط او خبره ده
ستا هغه د قهر او عتاب اداء
ماته اوس خوږه او خوندوره ده
زه دې په وصال کې شاهنشاه ومه
اوس مې حال له هر ګدا بدتره ده
دغه د فراق او جدائې حالت
ښکاري چې د چا له بد نظره ده
ځو به د ی کړیږی غم کې ځاردې شم ؟
ستا زمری مجنون نه سر ببره ده

۹۷/۶/۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستړګې

ستړګې چې دې پټې وې فتنې ښکارې
کله چې وې خلاصې ، پیمانې ښکارې
پټې سرې سکروټې وې ښو لاندې
ویښې راته سرې بلې لمبې شکارې
پټې د غوټۍ په شان ښکلا لرې
وازې د تازه ګلو غونچې ښکارې
کله چې ویده ئې ته د ناز په خوب
دواړه راته پټې خزانې ښکارې
څو چې دا دنیا ده ،وې دې تل رڼې
ماته د زمرې د ژوند ډیوې ښکارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قناعت

د شرابو خمخانې مې کړلې تشې
که ځواني وه که مستي وه زما بس ده
له پيالو ،جام او مينا نه په دنيا کې
ما ته يوه شونډه خوږه د ليلا بس ده

۹۷/۷/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وطن وږمه

ای د وطن لـه سـتـړو دښـتو نـه راغـلی وږمـې !
لـږ راتـه ووایـه زمـا هغـه ختـن څـنـګـه وو ؟
هـغـه زمـا د هیلـو ځالـه دی ښـه ولـیـدلـه؟
هـغـه زمـا د سترګـو تـور، روح او بدن، څنګه وو ؟
هـغـه انـسـان چـې یـې مـلکـو غـلامـی کـولـه
مغرور پښتون، هوښیار تاجیک او ترکمن څنګه وو ؟
هـغـه تـنکي ځـلـمي پـه ولـي لا تـو پـک ګرځاوه ؟
هـغه پـیـغـلوټې، سره اوس چـال او چلند څنګه وو ؟
هـغـه چـې ټـول ورتـه یـزیـد، یـزید او شمر شوي
هـغه حـسـین، حـسـیـن افـغان هغه حسن څنګه وو ؟
هـغه د ډزو کـنـوونـکی غـږ لا اوس هـم خـپور وو؟
هـغـه د بم او دراکـت سـوری بـدن څـنـګـه وو ؟
هـغـه د خـاورو نـه جـوړ کلي چـې به شنه وو مدام
هـغه چـې تـږی بـه وو تـل، سوی چـمن څنګه وو ؟
هـغـه ختـیـن کـور چې پـه سر به ئې شنیلي ټوکیدل
هـغـه بـیـدیا ، هـغـه صـحـرا ، هغه دمن څنګه وو ؟
هـغـه د تـورو جـګـو غـرونو ښاماران ژوندي وو ؟
هـغـه هـیـبـت ، هغه ښکلا ، هغه هسکمن څنګه وو ؟
هـغـه یـاغي مستـو سیندونو درتـه شور درنه کړ؟
هغـه اوبـه ، هغـه څـپـه ، هغـه شکـن څـنګه وو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه له عطرو ډکه، هغه مزه داره خاوره
هغه فردوس، هغه هغه جنت، هغه عدن څنګه وو؟
هغه هوا چې به نغمې د ژوندانه وي پکې
هغه راحت، هغه مستي، هغه چلن څنګه وو؟
هغه نښتري، چنارونه او د ولو ونې
هغه څيړۍ، هغه شيشم او نسترن څنګه وو؟
هغه لعلونه، سره ياقوت او زمرد څنګه وو؟
هغه لاله، هغه د شنو دښتو ګلشن څنګه وو؟
هغه د غرو د سر بازان لا الوتل تر اوسه
هغه بلبل، هغه بورا، زاغ او زغن څنګه وو؟
هغه وحشي او ترئيدلي هوسۍ چيرته لاړې؟
هغه زمريانو زړور ليوان، دښمن، دښمن څنګه وو؟
هغه زما زيار کښ ولس په شانې سترې ميړيان
هغه مرغان، خزندګان، ماهي، مهن څنګه وو؟
څه دې ليذلي چې ګويا ژبه دې ګونګه شوله
ووايه لږ چې د افغان ولس-وطن څنګه وو؟
که دې کوم وخت کې په غلطه هلته مخه وشوه
ورته ووايه چې پرديس زوی ئې غمجن څنګه وو؟

۹۷/۷/۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

قواوزه

وايې چې قو په ژوند کې..........
يو ځلې مينه کوي،
او صرف همدغه مينه ، د هغه ژوند جوړوي

هغه د مرګ له پاره ، ځان رسوي همالته.........
چې ميين شوي پکې........
بې مهابا او بې اختياره ئې قوي او ځوان زړه،
دي درزيدلی، تپيدليو غوړيدلی چاته...

××××××××

غوارم د قو په شانې، د ګران وطن په غيږ کې
هلته چې ما له ده نه مينه زده کړه
هغه چې ما ورسره مينه کړی؛
هغه چې زړه او د بدن ذرې مې
تل تپيدلي ده ته،
دا خپل ځان ورسوم

۱۹۹۷/۹/۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

سانډې

دلته هر څپک څپک ته ، د جنت ګوته په خوله ده
هلته کم دي يوی لويشت ته ، اووه واړه دوزخونه
د خزان ښکلا ته دلته ، پسرلی په حسرت ګوری
هلته ژمي کې غرق شوي د کلو کلو فصلونه
سره دي غاړه په غاړه رنګ او بوی په مينه دلته
هلته کرکه کې دي نغښتی، سره رنګ دي که بويونه
دلته ځمکه اسمان شنه دي،هوا شنه ده،اوبه شنې دي
هلته سری چينی خوټيږي، اوری سره سره بارانونه
د ماشين تور ښامار دلته نازوي د سارا کاڼي
د انسان په ګوتو لوټ شول هلته سم سمسور باغونه
دلته ژوند دی چې مستی کړي او خوټيږي هر ذره کې
هلته هر څه ته ولاړ دي په قطار قطار مرګونه
د ژړا مفهوم پردی دی، دلته وير له خلکو هير دی
هلته مړه دي احساسات ټول فقط ساندی دي ويرونه
دلته ستر ګې غړوم چې نو مې دا دعا تر ژړه شي:
د افغان له ملکه ورک کړی دغه ستونزی ، عذابونه

۹۵/۱۰/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنه

زما د زړه له سوزه
تول ورځ لمر په اور کې سوزی او خوځیږی پسی
او........
زما د سوو فریاد و له لاسه:
سپوږمۍ او ستوري واړه،
په غم لړلي اوله و همه ډکې شپې راسره ،
ټولې رڼې تیر وي.
زه درنه څه نه غواړم
خو.........
د خپل لمر ، سپوږمۍ او ستورو په خاطر له مانه..
ددغه سوز او ددی شور،
ددی عذاب او دی غم ؛
ټولې ریښې او سر چینې لیری کړه.

۷۹/۱۰/۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیامت

راته بل دی په ګوګل دننه اور
چې مې وسو په لمبو کې کلی کور
هره اوښکه مې سکروټه ده پرې سوځم
وړوند شوم ،روڼ جهان مې شو تر پامه تور
دین ،دنیا مې ددوزخ یوه ګوښه ده
په لمبو کې به وی ډوب هم زما ګور
په هجران کې د جانان وطن سوځیږم
ورروان یم هر ساعت په هغه لور
دا زما په وطن جوړ خنګه قیامت دی
پکې ورک چې دی د سل محشرو شور

۹۷/۱۰/۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان

د ژوندون له تناره نه پورته دود یم
دزمان پنجو کې زه یو مات سرود یم
له عدم نه مرور، هستۍ نه سترې
د اختیار او د اجبار بندی موجود یم
د سجدو داغ مې په سر او پښو نه شته
نه د چا صادق بنده او نه معبود یم
د آسمان په زړه کې ستوری زما تت دی
ددې مځکې په مخ بی سیوري وجود یم
داسې خوب یم چې تعبیر ئې کیدای نه شي
داسې وهم چې له هر زړه نه مردود یم
یم د کرکې له وطن ځینې راغلی
د وفا او محبت دملک کمبود یم

۹۷/۱۰/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغان غم

د افغانانو د ستر غم له پاره
د دغې لوئې نړۍ ،
زړه لا وړوکی برېښي.
د دوی د ساندو او د کریکو غړ.ته ،
د نړیوالو او آسمان غوږونه ،
لا هم کاڼه دي کاڼه.
د دوی د حال او مصیبت لیدو ته
هر څوک وړانده دي ، وړانده.

××××

لکه چې دا وګړي ،
دلته پردي دي پردي ،
لکه چې دغه خاوره ؛
د کومې بلې دنیا
ډېر نا منلی ، کرغیړن سوغات وي.

××××

مونږه نو چیرته لاړ شو ؟
مونږه نو چیرته لاړ شو ؟
چاته خپل غم ووایو ؟
څوک به مو چیغې واوري ؟
څوک به مو حال ووینې ؟
څوک به مو خپل وګڼي ؟
څوک به مو خپل وګڼي ؟
مونږه نو چیرته لاړ شو ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږه نو چیرته لاړ شو

۹۸/۲/۶

لټون

زه به وای مجنون که می لیلا چیرته موندلې وای
یا می د جنون سیاله سارا چیرته موندلې وای
زه به د یما په خیر پاچا د آریانا ومه
جام ته مې د مینې که سوما چیرته موندلې وای
وخته چې په غاړه تا کچکول د ګدایۍ راکړ
کاش ! دې کوږ قامت ته مې امسا چیرته موندلې وای
ژونده ! ته به وریت وی د حسرت په تناره کې اوس
سوز ته د ارمان مې که ژړا چیرته موندلې وای
زه به د رسره ومه تر مرګه د زمري بخته
تاکې مې که څه لویه خطا چیرته موندلې وای

۱۹۹۸/۳/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژرنده

د عــالــم روزي ددب د غــاړې حد ده
خو په خپله خواره برخه ئې صرف ګرد ده
خپــــل قرارئې دی تل نوروته بخښلی
داتــــلاش او د اسخـا ، خاصه دمرد ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان

له غیرته چې لمبه په نام او ننګ شي
له غروره چې اسمان سره په جنګ شي
د کنګل په څیر او به چې شی له شرمه
چې د پوهې بلې شمعې ته پتنګ شي
چې مجنون شي د وطن د پاکې مينې
چې د جنګ ستري بلا سره په جنګ شي
چې له ظلم او استبداد سره دښمن وي
د انسان له ستر نامه چې په غور ځنګ شي
په سرو کې هغه ځوان او پیغله شماره
چې سینګاریې په هنر او په فرهنګ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پړ

ما به ویلی درته

«چې که دې پرېښودو وطن ، راسره»

دا د خوږمن زړه شیمه

اودا د دوه سترګو تور ؛

«د زړه کتری به درکوم

او تا به ساتمه زه»

خو زه دروغجن وختم.

د زمانې له لاسه و

او د روزګار غمونو ،

له دې زخمی زړګي نه ؛

تاته څه پری نه ښودل

ټول ئې اوبه اوبه کړ.....

او رانه ئې خام ، خام وخوړ ؛

زه درته پړ وختم ،

او ژوندی مړ پاتی شوم.

۵/ ۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان

په دغه ځمکه باندی

له ډیره وخته دیخوا ،

نه چا کوم بیل وواه

اونه د سپارې بریښید ونکي غاښ پری وازمایه ځان

نه د غلی دانه پری ښخه شوله ،

نه کوم نیالګي پکې ربښي وکړلې ،

پرخه پری پری نه وته ؛

ویاله پری تیره نه شوه ؛

نه کوم هرهټ یې مخ ته ،

لپه وروا چوله.

نه پری باران واورید ، او نه پری واوره ویلې ؛

نه د کوم کور د تهداب تیږه پکې کیښنودل شوه ؛

نه تری ګل و بوټی کیده ، اونه هم شنه کبله ،

نه بی ثمره ونه ، نه د غنمو وږی ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه تری ښه بوی وخاته.

نه کوم مرغه پری والوت ،

نه پری بلبل و چغید .

خو

د کنګ غړونه

له هری خوا نه جګ دي

له سپیرو د ښتو ځینې

د خړو کلیو له خوا

آن د کورونو له انګړو څخه ؛

چې تل قبرونه کینی

او انسانان ښخیږی؛

د انسانانو وینی

په سمه ، غرونو ، کاڼو بوټو باندی...

د پر خی ، واورې او باران ځایونه ټول ډک کړی

هر چیرته وینه پرته....

هر چیرته وینه اوری....

هر چیرته وینه : بهیږی او بهیږی پسې...

دلته د وینو بوی دی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د باروتو لوګی،

پر وریتو شویو غوښو ،

او د بدن پر غوځو شویو ټوټو ...

د ساندو کریکو او ژړا غږونه.

څوک شي نفس ایستلی ؟!

دلته هوا نشته ده ؛

ټوله فضا د انسانانو له روحونو ډکه...

او دغه خاوره ده مدام له ماتمونو ډکه...

۲۰/۶/۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمصیبت غوغا

هره تیږه ده سکروټه، ټولو شکو نه خوړلن جوړ
هره ونه ده شناخته، ټولو پاڼو نه کفن جوړ

دباران څاڅکي هم دلته لکه تندر راپریوځی
ټوله ځمکه خولا پریږده ،دی آسمان ورته دښمن جوړ

دهر بوټی په رګوکی دشهید وینه بهیږی
په هیڅ ځای به پیدا نه شی دژوندی - مړی بدن جوړ

دیو لویشتی خاوره نشته چی خالی به وی له خلکو
په هرګام کې یو څوک خښ دی،قبر هرچاته مأمن جوړ

دټوپکو تورو خولو کې،دقیامت دشپیلی غږدی
پری هرڅه زیر او زبر شول، کنډوالو کړ داوطن جوړ

مصیبت دی چې غوغا کړی دافغان ولس په ځمکه
جنګ ،سیلاب او زلزلو کړ له دې ملک ځنی مدفن جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګردله

هـــره مور ده بـــوره شـــوی هـــرې خورنه ورونه ورک دي

ځلمي ورک دي ، پيغلې سپکې،دهر چا قبرونه ورک دي

سور سيلاب دځــوانــو ويــنــو ،ټــول وطن په مخه کړی

ګـــردلـــه ده دحـــالاتـــو له هـــر چـــاکورونه ورک دي

۹۸/۶/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

غبرګې نیشې

یو خواته دیار سترګې، بل خوا پیماني ایښي
دا مې په نصیب کې نن ، څه غبرګې نیشې ایښي

دا دې لـــه حیـــا ډکـــې ، هغه هوسونونه
یو خوا مې اوبه د ژوند ، بل خوا یې لمبې ایښي

دا خواږه ستونه کړي ، هغه اشاري پـــه نـــاز
لاره رانه ورکه ده ، هر خو ا مې اییني ایښي

دا به نظر و ځښنم ،وابـــه ړوم دا پـــه سر
تړلو مې جنون ته دي ډیرې بهاني ایښي

دلته ولوله د عشق ، هـــلته بیخودی د ژونـــد
عقل او زړګي ته مې دواړو زولا نې ایښي

۱۹۹۸/۷/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې غوغا تـرينه د سوو زړونو خيږي
دا د ښکلو تور اوربـل نـه دی نو څه دي ؟

چې په يو نظروژل کوی د سلو
تورې سترګې يې اجل نه دي نو څه دي؟

چې پرهار يې مسيدو ته هوسيږی
دا سی شونډې چې درمل نه دي نو څه دي ؟

چې د تن په وينو سره، مدام تپيږي
د جفا د تيغ بسمل نـه دی نو څه دي ؟

عاشقان په کې خپل تور بختونه وينئ
دا بلاوی تور کجل نه دي نو څه دي ؟

چې جانان درته په مينه مينه ګوری
دا خبرې که غزل نـه دي نـو څـه دي ؟

چې يې هر څـه په رڼا ورځ رانه لوټ کړل
له غمزو دی ډک کتـل نه دي نو څه دي ؟

چې د مينې سره ډګر ته ميړنې ځي
دا زمري زړونه اتل نه دي نو څه دي

۱۹۹۷/۷/۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیمو په زړه کې

ځم چې انتظار، د شو ګیرو په زړه کـــې وکرم
وصل د جانان به ، د سپیدو په زړه کې وکرم

ستوری به د بخت ،په لیونیو چیغو ویښ کړمه
سوز د نامرادی به ،د تیارو په زړه کې وکرم

شیندی بیخودي چې هرې خواته ولولې د عشق
خپـــل تږی نظر به، د پردو په زړه کې وکرم

مات چې کړم رونق زه د مانی او د آرژنګ د ښار
ستا دناز تصویر به، د لیمو په زړه کې وکرم

وخت ته به زیندی دتا له تورو زلـــفو واچوم
تخـــم د غماز به، د ایرو په زړه کې وکرم

یو خواته مستي د پیمانې بل خوا د یار سترګې
را چې د زړه زنې ، د لمبو په زړه کی وکرم

۱۹۹۸/۷/۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

چور

د وصال بزم ته راوړې جام د شـــــونډو
داسې ښکارې چې جنت ته انطهور وړې
چې دې خوی ته په حسرت کې ښـــاپـــیرۍ دې
د هـرې یوې زړه ته داغونه د ناسور وړې
چې په هر پل کې د نـــازبـــزغـــــلې کرې
د عـــالـــم د زړو نیازونه به ضرور وړې
چې د شونډو غوټۍ وســـپړې خـنـــدا ته
غـــــوړیدلی باغ ته ،ته د ګل تربور وړې
چې ښکاره شې جـــنازو بـــــانـــدې د هیلو
د مـــاتم محفل ته یې ته موج د سرور وړې
سترګې جام ،شونډې پیاله ، تن دې ښیښه ده
یو جهان تاکستان زړونه، ته په چور وړې

۱۹۹۸/۷/۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته او زه

ستا د مینې تاج په سر ، لکه پاچا یم
خو کچکول مې د دیدن په لاس ،ملنګ یم
چې تصویر ستا د ښکلا مې دی لیمو کې
د بهزاد د پلار استاد ، سیال د آرژنګ یم
که د ژوند د شپو تیارو ته مې ډیوه یې
زه دې هم د پلوشو سوی پتنګ یم
د زلال په څیر ، ته مړو ته ژوند بخښې
خو زه ځانه ته هم د سوی زړګي زنګ یم
ته اسمان یې د هستۍ دې لوی جهان ته
زه بې تانه د نیستۍ یو لوی ګړنګ یم

۱۹۹۸/۷/۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیاره او ستوري

زمونږ پر کلي باندې،

توره تیاره خبره ده

ټول شیان تت دي، څوک څه نه شی لیدای

د تورو وریځو لړۍ

دي هرې خوا ته تللې ،

کله ناکله لا د ژمي د سیلۍ غړونه ،

زمونږ پر زړونو باندی

نوی واهمه خپره کړي ،

خو دغه توره شپه کې ،

هاغلته لیری د اسمان په ګوټ کې ،

یو سپینکی ستوری ښکاری ؛

له لیری ،لیری نه دی ،

د یو ماشوم په شانې ،

له لا یزاله انرژۍ ځینې ډک ..

چې تل لاس اچوی د مور ویښتو ته ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدام دا هڅه کوی ،

تر څو د لمر شغلو نه ،

یو څه را کش کړي ځانته ،

او د تیارې په لورئې

چې ئې زمونږ پر کلي

تور څادر خپور ساتلی

د سوزیدونکو ...

ځلیدونکو...

څو نیزو په توگه

بی زغرده و غورځوي ؛

او زمونږ کلی خپل نظر ته خلا ص کړی

خو دغه ستوری مونږ نه ،

او رڼا ئې نه د لمر ؛

ډیر زیات گوښه پروت دی ،

او د تیارې دا سارا ،

ډیره اوږده پرته ده.

* * *

چې ورته څېر شو مه ښه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته هیڅ ستوري نه شته ،

څه چې لیدلي وو ما ...

هغه زمونږد امیدونو یو سراب غوندې وو...

چې د دې شپې په زړه کې...

لا هم ویده دی ویده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلیل شوی زړه

مدام په خوب او ویښه،...
یمه لګیا او یو تصویر کاږمه...
یو بی مثاله تصویر ،
چې د هنر او د خلقت یو لوی شاهکار وګرځي،
چې چا تر اوسه لا ایستلی نه وی:
د نامرادیو ،بد بختیو او غمونو تصویر ،
د ولږی ، فقر ، دژړا او ددردونو تصویر ،
...د بی کوریو تصویر،
د جنازو او دهجرت دبی پایانه بهیر ،
د کړاوونو ،عذابونو او ظلمونو تصویر ،
په تیارو شپو کې د وحشت او ستمونو تصویر........

××××××××××

لاس مې ور اوږد کړ چې قلم راواخلم
زما قلم د شهیدانو د جنډو لرګی وو ،
رنګ مې له اوښکو او له وینو څخه ،
او د باروتو له لوګي......
او د لمبو له شرارو نه جوړ وو ؛
ما د نظر په تخته.....
دغه تصویر کاږه لا ....
لا پکې بوخت ومه زه ،
کار مې تمام څه ، چې لا ډیر پاتې وو ،
چې د تصویر په زړه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته یو زړه څرګند شو........
یو را ښکیل شوی ، زبیښل شوی ،
او له درده ډک زړه.

×××××××

چې ورته مې کتل
دا زما خپل تصویر وو ؛
زما دتن ، زما د ځان ،
زما د ګران او وران وطن:
«افغانستان» تصویر وو

۹۸/۷/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غرور نیشه

چې د پاڼې په څیر جګ کوري اسمان ته
د خزان سیلۍ ئې کړي تر پښو لاندې
د غرور او خودخواهي نیشه کې غرقه
بیا به ژاړې نن په کومه خوله چې خاندې

۱۹۹۸/۷/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردیتوب

آسمان له ځمکې خفه ،
سپوږمۍ له ستورو ځینې ،
باران د وریځو له تروه تندی نه،
سیند د اوبو له شور او زوږ ځینې کونږ ،
پاڼې د څانګو دداړونو له رسیو ځوړندې ،
چمن له بوی او له سروره خالي ؛
سارا نه تښتي لیونتوب په منډه ،
اوبه له اوره سره لاس او ګریوان.
تیږې له غره ښوئیږي.......
خاوره له ځمکې تښتي.......
عقل له مغز سره تربور غوندی دی.
وینه د زړه له لاسه دارې وهي ،
میینان تول دي له یو بل ګیله من ،
ګلان ، بلبل او له بورا زړه تورن .
ساقی له میو او پیالو ځینې موړ ؛
ورونه له خویندو او له میندو بیزار ؛
خپلوان په خپلو کې پردي دي پردي.......

×××××

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې پردیتوب کې دې هر څوک بې وسه ،
د خدای خدائي ناکامه ،
د بنده هڅې ستړې ،
له تدبیر لاره ورکه.

××××

نو خندا ژاړي ورته ،
او غم له مستې خندا شین ښکاريږي ،
دې پردیتوب هر څه له هر چا بیل کړل.......

د ۱۹۹۸ نوامبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښیرې (۱)

ستا جنت جنت وطن ته ،زه دوزخ، دوزخ اور غــــوارم
لکه خپله ورانه خونه ، ستا محل هم نسکور غــــوارم
ورور دې ودراوه ورور ته ، خپل بچی دې په بلار مړ کړ
ستا په کلي لوی شیطانه،تر دې بدلا څه نور غــــوارم
حضیره دی هره لویشت کړه ،هره تیږه دې شنا خـــتــه
تاته هم په هر څپک کې ، ستا بچیو ته ګور غــــوارم
زما په پاکه خاوره راغلل ، ستا ناولی راکـــتــونـــه
ستا په خپل ناولي بڼ زه ، د محشر شر او شور غوارم
د فساد په نبلي سپوره ،د ګـــناه د ملک بـــــاداره
ستا د کبر خونی غانښ ته د افـــغان د مټ زور غوارم
چې آزار ئې چا اخیستی ، ورته اور په لمن پروت دی
ستا د خپل تر بور په شانی ، تاته هم دا پیغور غوارم
دافغان د پګړۍ ولونه ، هر غــــــلیم ته زولانې دی
انتقام کی ئې د وینو دغه دار درتـــه خـــــپور غوارم

۱۹۹۸/۱۱/۲۶

(۱)دا ښیری بیل کلینتن ته زمونږ په وطن د هغه د راکتی حملی له درده لیکل شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګوځیو حسرت

ستا پـه تـورو زلفو کې سپین ولګید
یا په خړو وریـځـو کې بریښنا شوله؟
دا د تور تمونو څادر څـیـری شــو
یا خپره د لمر د څـرک رڼــا شــولـه ؟
دا خــپـلې ځــوانــۍ ته دې لوګی وکـړ
یــالــمـبـه زمــا دزړه دنــیا شــولـه؟
څښې دې قودۍ ،قودۍ کوځۍ نه شوې
ماتــه مــې د ښــکلو هـیـلـوملا شـولـه
مــینــه مــې په خپل اور کې پخه شوله
پــریــږده چې رسوا شي چې رسوا شوله
ستا د ویـښـتوهـرتـار او هرخم او پیچ
ماتــه د ژونــدون ښــکلې دیــبا شوله
تــل دې پــســرلـی د تن تازه واوســه
پــورتــه مــې لــه زړه دغــه دعــا شوله

۱۹۹۸/۱۱/۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناه

څــومــره چــې ده لــویــه د تــو بې ګناه
هــو مــره ده خـــوږه د پــیــمـانــې ګــنـا ه
دغـــه پـــښـــتـــون ســر د تیټیدو نه دی
نـــه مـــې ده پـــیـرزو پرې د سجدې ګناه
هــغــه د مـــنـصور غوندی رسوا نه ده
ورکـــه شـــه نـــا ولـــې د پـــردې ګـــنـا ه
مـــیـــنـه کـــې دي دوا ړه جـــهـــانونه پټ
ځـــکه ده خـــوږه د یـــارانـــې ګـــنـــا ه
ســو زی چې پتنګ ځان په لمبه د عشق
څـــه ده پـــه دې مـــنـځ کې د ډیوې ګناه
وچ لـــغړ اغـــزی تـــه هـــرڅوک بد وائې
پـــتـــه ده د ګـــل او د غـــونـچې ګـــنـاه
لـــمـر ئـــې پـــه ځـــیـــندی د مکر وواژه
نـــه ده د بـــخـښـــلـو د تـــیـــارې ګـــنـا ه
ای چې پـــه نامه کې دې انس موج وهي
چـــا کـــړه درکـــې ځـــای دا د کینې ګناه
هر یوه ته ئـــې تـــوره د مـــذهـــب ورکـــړه
څـــو مـــره ده درنـــه د زمـــانـــې ګـــنـا ه

(c) ketabton.com: The Digital Library

را چې نور د کفر ثواب وګټو
بس ده د ایمان او د کعبې ګناه
وزغمه زمریه نا کردې د دهر
وانه خلې په غاړه د ګیلې ګناه

۱۹۹۸/۱۲/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانۍ ښځې ته

د ګناه په وحشي غېږ کې
لکه شنه پاڼه رپېږې
د شهوت د زمري مخ کې
د هوسۍ غوندې ترټېږې
د هوس په ظالم لاس کې
بازيچې په څېر لوبېږې
د قوت او زور پنجو کې
ګل غوټۍ غوندې رژېږې
خوشحالۍ ته دزړه دارو
ته چورلېږې او ګډېږې
د خپل لوټ عزت په مړې
زار ژړېږې او سوځېږې
د دنيا په تور بازار کې
لکه وينځه ئې خرڅېږې
د رواج او رسم بند کې
پېغلتوب کې لا ورستېږې
د روزګار د سېلۍ مخ ته
لکه شنه نوده ماتېږې
د ژوندون د پېټۍ لاندې
د بسمل په څېر تپېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دنیا ختلی لمر دی
ته تیاروشپو کې اوسیږې
لږ دې حال ته نظروکړه
لا به کله راو ینسیږې
له دی ژونده مرګ بهتر دی
ته په دې هم نه پوهیږې
د بدلون فکر پیدا کړه
پرې له دې حاله خلاصیږې
په تدبیر او په همت خپل
د آسمان بام ته رسیږې
پاڅه پاڅه وخت روان دی
ته لا- بیرته پاتی کیږې

۱۹۹۸/۷/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره ، شنه ، سپین

کله چې هر څه سره وو
که هر څه سره ښکاریده ..
نو د پوښتنې ځای هیڅ پاتې نه وو

خو چې د شنو دوران شو
بیا هم شنیلی او پاڼې
چې له پسرلي تر مني
همیشه شنې بریښیدې
د شنو په نوي پسرلي کې
لا هم.......
هاغسې سري ښکاریږي
خو ولې ؟
اوس چې د سپینو وخت دی
نو د مالو چو او د واورو رنګ هم
د پخوانیو سرو د وخت په شانی
په وینو سره ښکاریږی ؟

۲۵/۱۹۹۸/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ نشته

د بخدي لوړو برجوکې
سره او شنه تو غونه نشته
د دې ښار ګڼو کوڅو کې
د ژوندون شورونه نشته
دیما د لاس ګوربت ته
د پرواز وزرونه نشته
د آرین په نغري کې
دزردشت اورونه نشته
د تیاروخدای باچاهی کړی
میترائې فکرونه نشته
د ویدا افسانه ګونګه
د نیسانازونه نشته
د غاټولو بوټي سوي
د هوما ګلونه نشته
د مستۍ بزمونه غلي
د سوما جامونه نشته
په کردار، ګفتار، پندار کې
د نیکو خویونه نشته
د باګرام په معبده کې
داوشاس رقصونه نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوشان لوی مدنیت هیر
د فرهنګ ویاړونه نشته
د ضحاک د ښامار غاښ ته
د کاوه زواکونه نشته
ایمل خان ـ دریا خان لاړل
د خوشحال ننګونه نشته
په ایلبند او سردرو کې
د شپنو غږونه نشته
آمو ژاړي آباسین ته
چې اتل میړونه نشته
د پامیر په زړه کې اوردی
پکې سره لالونه نشته
هر څه مړه دي هرې خواته
د پاڅون سوچونه نشته
د کاغانو بازار تود دی
د بلبل غږونه نشته
د ګیدړو په دوران کې
د زمرو وختونه نشته

۱۹۹۹/۴/۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ ته

تــه د طــهــوروپــه خیالونوکې مست

ته د غلمانو په خــوبــونــوکې مست

ته د حورانو د نــازونــو نــیــشــئه

تــه د کــوثــرو په موجونوکې مست

تــه د جــنــت د بــاغ او گل لــیونی

تــه د عــقــبا پــه لذتونو کې مست

تــه پــه ثــواب پسی سرتوره ملنگ

تــه بــه تــوبو اوتکبیرونو کې مست

تــه د ازل پــه لاس جــوړ شوی غلام

تــه د پــردیــو پــه دامونو کې مست

تــه د تــقــدیر ځنځیر په غاړه گرځې

تــه د قــسمت پــه تالابونو کې مست

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د معروف او منکر چـیغـې وهې

تـه پـه ګـناه او عـذابونو کې مست

تـه دي وهـه د عـقـل لا فـې شیخه

د جـهل پلارئې په وهمونو کې مست

تـه بـه زمري ته سمه لار څه ښئې ؟

ئـې پـه ګمراهو تدبیرونو کې مست

۱۹۹۸/۱۲/۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژړا ملګري

زه خپلو یادونو سره ژاړمه
ځکه فریادونو سره ژاړمه

اوښکې مې شوکارې لګوي په مخ
خود به له سوزونو سره ژاړمه

خپلو ته مې هم چې ډیر پردي ښکاري
زه داسې غمونو سره ژاړمه

زړه ئې کړ سوری راته، ځیګر ویلې
دغسې دردونو سره ژاړمه

کریکه مې د سوز، د بریښنا منډه ده
مستو توفانون سره ژاړمه

نخښه د کوم تپ مې په صورت نشته
پټو پرهرونو سره ژاړمه

تښتي مې له روح نه ددوزخ لمبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لمبو کلی

اسدالله زمری

داسی عذابونو سره ژاړمه

وبه چوی که تیږې ته ئې ووایم

زه د زړه حالونو سره ژاړمه

هر بند کې ئې موج وهي د زړه وینې

تل چې مې شعرونو سره ژاړمه

خوله کې د غربت د دیو پریوتی یم

ډیرو حسرتونو سره ژاړمه

وای چې د وطن د دنګو غرو زمری

سوو امیدونو سره ژاړمه

۱۹۹۹/۴/۱

کابل وسو

کابل وسو، نازولی کابل وسو
د وطن د مور دا ښکلی کاکل وسو
چې اغزي وو د پردو د بدو سترګو
د افغان د پګړۍ سرکې، سور ګل وسو
د عطرونو پرځای خیږي تري لوخړې
غاټول وسو، ګلاب وسو، سنبل وسو
د غرور تندی ئې مات شو سترګې تتې
د مکار خزان له لاسه بلبل وسو
چې له موټې ئې قوی سوک وو جوړ شوی
نامردیو ئې ټول توان تحمل وسو
چې راټول وو پري خواره واره وګړي
د نااهلو اولاد و تغافل وسو
سر ببر، ټټر شوکارې، مخ شکیدلی
دې حالت ته ئې پردی وو که خپل وسو
بشري تاریخ پري سوی لوغړن شو
بې تاریخه چې لرغونی کابل وسو
چې لوګی ئې وای ښکلا ته ای زمریه
چا لمبه کړه په نظر، په منګل وسو

۱۹۹/۴/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

وران کابل

کابل وران شو، په لمبو کې جلبل وسو
د وطن د میړنیو اتل وسو
چې عشرت ته ئې حسرت کې سوځیدل ټول
د دې غرونو شنه لمن او ګوګل وسو
لودن ورک شو له هر چا نه، زمان ورک شو
نن لمبه شو په لمبو کې، ازل وسو
مرګ یاغی شو، خپل پردي ورځنې ورک دي
عزرائیل ئې کړ ستي او اجل وسو
چې وو تړی تل د سولې- پخلائینې
کرکې وران کړ په جنګونو، جدل وسو
هیڅ زړه سوی او صرفه چا ورته ونه کړه
په جامه د کاروانې کې، تورغل وسو
ټول بدن مې شو لمبه لمبه پری سوزي
د زړه تل کې مې بل اور د بدل وسو
د ګربت دا ځاله ورانه، بچي ئې وریت شول
د زمرو د استوګنې بورجل وسو

١٩٩٩/۴/٢٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدله زمانه

ورکې د ژوندون خوږې نغمې شولې
جګې د سماع او وعظ ناري شولې
دروند څادر د مرګ دی په دې مینه پروت
هر خواته قبرونه وحضیرې شولې
هرچرته ده ګرمه دلمبو قصه
هرڅه پرې لوخړې او ایرې شولې
دلته اوس سودا د مرګ او ژوبلې ده
نوی ئې دلال او معاملې شولې
چیرته چې ښکالو باندې بندیز لګي
غلې پرې نغمې او ترانې شولې
غیږه کې زمري نه ګید ړوکټه
ځکه ،اوس بدلې زمانې شولې
چیرته خفاشان چې پاچاهي کوي
ورکې ترې رڼا او سپیدې شولې
هر چېنې ساقي شو د رضوان د جام
هیری ورنه سوال او وظیفې شولې
ټول وینی خواره کړل د طهور طمعې
سور پکې جهاد او سرې سجدې شولې
خوب او خیال د حورو او غلمانو دی
ګرمې د جنت۔دوزخ قصې شولې
تور جلاد هم سپینې جامې واغوستې
حکم ئې قصلص او یا دورې شولې
بس مرداري ګیرې،غوړې څڼې دي
ورکې دافغان جګې شملې شولې
سر نشته و سرور نشته، سالار نشته
ستر ګې د غیرت ټولې وړندې شولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غیرت څریکې

«چې له ګرده د پښتو ئې، پس له مرګه هم آمـــان غــوښت»
د هغه خوشحال په قبر ، ښکاري اوس د پردو پلونه»
د «میرویس» ټول ارمانونه،نن د شرم ډنډ کې ډوب شــول
د وطن د مور په وِږنو ،بیا ګرګین ښخ کړل غاښونه
د «احمد» غیرت او برم ، بې ننګیو کې ورک ښـــکـاري
د نا اهل اولاد له لاسه ، وړې د سیالو پیغورونه
په هر ځای کې ښخې ښکاري ،د تورتم خوني منــګولـــې
په تیارو کې دي لاروړکی «روښاني» عالي فکرونه
د «ملالې» دروند پړونی ، بې ستریو ته پـــرده شـــوه
د «نازو» په نامه خاندي ، د بازار هرجائې نجونه
«مسجدي» دی که «ملا» دی، د مسجد له نـــامـه تښتي
په کلدار او ریال خرڅ شول ،هم مذهب ،هم ایمانونه
«اباسین»«آمو»ته ژاړي، د «هلمند» اوښکې شوې وچې
چې اوبو په ځای ئې زړو کې ، د سرو وینو دي موجونه
«هندوکش» په سپینه ږیره ،رنې اوښکې دی بهیـــــږي
چې په تور بازار ئې خرڅ شول ، ټول د سرو زرو کانونه
د هغو د غیرت څریکې ،نورې غـــــلـــې او ویدې دي
چې په ټیټو سترګو ئې وڅښل د پردو د جام بنګونه
د افغان ستره ټبره ، سترګې وغـــوړوه پـــاڅـــــه !
ستا وطن ته دي نیغ شوي د نیستۍ ترخه ګواښونه
ننګ دې څه شو نوم دې څه شو ؟عزت څه او پت دې څه شو ؟
د «اکبر» له ګوره خیږي ، داسې چیغې فریادونه
د پلرو د تورې بریښ لاړ ،اسارت په زنګ کې ورک شو
د خپل ورور په زړه دې تش کړل ،د پردیو توپکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پردیو تر لاس لاندې ، نه عزت شته اونه پـــت شته
دې دنیا کې تل سرلوړي ، تول خپلواکه ملتونه
سر هغه دی چې شو پورته ،مټ هغه چې وښـــوریـــږي
تل ژوندي هغه ځلمي دي ، چې آزاد ئې کړل ځانونه

ځه زمریه تری لوګی شه ،چې نظر ئې نه شي توره
چا چې غوځ کړل په میړانه ، د پردو سر او لاسونه

۱۹۹۹/۵/۲

بلنه

ځي چې له وطن نه رنګ په رنــــګ غمونـــه وکرو
څه چې مو کرلی دی هغه فصلونه وریبو

پاکې ارادې او نیکې هیلې که سر خـــوره شوې
ځې چې د ناولو سرخورو ، سرونه وریبو

کله د چا لاس، کله پښه او کـــله سـر غـــوځ دی
دې د ژوند لوګرو نه خوني لاسونه وریبو

هر یو د خپل پلار او د نیکونو دعـــا ګـــویه کړو
ځي د کفن کشو ددوران ، وختونه وریبو

هر څوک وائې څه په ما ئې څه؟ مـــا هر څه کړې دي
ځان نه را تاو کړي ، دا غلط خیالونه وریبو

څو پوری به خپلو کې د جنــــګ شرم ته غاړه ږدو
ځي چې ټول وطن نه ،د نفاق تخمونه وریبو

څومره بې ننګي ده چـــې د بل دلاس آله واوســو
خپل لاسونه یو کړو ، دا پردي زواکونه وریبو

څو چې سوارې ئې شې نیزې تیري کوونـــکو ته
دوی چې دي کرلي ، دا اغزن ګلونه وریبو

دې و حشت ته غلی کښیناستل پخپـلــه جرم دی
ځي چې د عمل د لا س او پښو بندونه وریبو

قبر د شهید به کړو سنګر او شناخته ئې سپر ځانته
تورو او نیزو ته به دا ټول توغونه وریبو

درس به د عبرت ورڅخه واخـلو مستقبل ژوند ته
ځمکې د ماضي نه به کره درسونه وریبو

دغه د تاریخ د آزمویني نوی دور دی
پا څیږئ زمرو چې د بري خوندونه وریبو

۱۹۹۹/۵/۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د شعرونو یوه مجموعه چې نوم مې ورته« د لمبو کلی» ایښی وو ،د کابل له دولتي مطبعې او یو شمیر نورو کتابونو سره یو ځای د مجاهدینو به لاسو وسوځیده ،دا شعر په همدې مناسبت لیکل شوی دی.اوس چې د نوموړې مجموعې شعرونه راسره نشته او له وطن نه هم «د لمبو کلی» جوړ دی نو دا مجموعه مې هم دا سې وتوموله.

د لمبو کلی

وسو په لمبو کې د لمبو کلی　　　دا د ښکلو هیلو او اسرو کلی
هره خښتة ئې زما تو ته د زړه　　　خته ئې په وینو وه لمده د زړه
وه هوائې مسته ولوله د زړه　　　دا مې وو د روح د اوسیدو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی
هلته اوسیدل مې امیدونه ټول　　　هلته غوړیدل مې ارمانونه ټول
هلته نڅیدل مې هوسونه ټول　　　دا زما د ټولو اندیښنو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی
هلته جذبې مې د ځوانۍ پټې　　　هلته انګازې مې د یارۍ پټې
هلته مې د زړه بې قرارۍ پټې　　　دا مې وو د مستو ولولو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی

هلته احساسات ټول خوږیدل زما　　　هلته ټول رازونه ښکاریدل زما
هلته ټول غمونه بلیدل زما　　　دا مې د ښادیو او غمو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی
هره پوله ئې حد وو د غمو زما　　　هر پټی ئې کښت د ترانو زما
هر بوټی ئې ځاله د آرزو زما　　　دا مې د شنیلیو او ورشو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی
هر انګړ کې جوش وو د ژوندون غلی　　　هر کور کې جنون وو د هامون غلی
هره خونه کې ئې نن، سبا ،پرون غلی　　　دا مې وو د غلو تو فانو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لمبو کلی

اسدالله زمری

هر خوا ته ژوندۍ وې د پاڅون هڅې　　　هر خوا غرېدلې د لټون هڅې
هر شی کې تودې وی د بدلون هڅې　　　دا مې وو د ځوانو تلوسو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی

هلته کلمې لکه سکروټې وې　　　هلته ارادې تر پولاد کلکې وې
هلته پیمانونه ټولې ګټې وې　　　داو و د زیار کښو پرګنو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی

دا کلی وو جوړ مې له شعرونو نه　　　ښکلو ځلوریځو غزلونو نه
جوړ وو له روانو سیلاوونو نه　　　دا مې د احساس د پلوشو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی

بل پرې مجاهدو سره اورونه کړل　　　جګ ئې ورته زړه نه تور دودونه کړل
خاورې او ایرې ئې سره لالونه کړل　　　جوړ تری شو د ورانو کنډوالو کلی
وسو په لمبو کې د لمبو کلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم اټکل

زه دې يم شاعر او ته غزل زما
ته مې تلوسه او ته تکل زما
بار د ژوند په ولو سرګردانه تل
زه يم مسافر، ته سر منزل زما
هر خوا مې کوهي او ګړنګونه دي
ته د کړليچنو لارو مل زما
زه بندي د غم د تورتمونو يم
ته دغو تيارو کې ئې مشعل زما
زه د ناهيليو د کوهي يوسف
ته مې ئې نجات او ته اجل زما
دې ترخو يادونو کې چې پائمه
ته مې ئې خواږه او ته عسل زما
زړه خو دې به يو ځل رانه وړی دی
راشه يو ځل بيا ،ډک کړه ګوګل زما
ته به مې د ژوند د پائښت ستوری شې
سم مې وو بس دغه يو اټکل زما

۱۹۹۹/۵/۱۳

د مینې زمری

هغه د حسن ښاپیرۍ ده ، د ښکلا فرښته
له حیا ډکه شنه غوټۍ ده ، د وفا فرشته

هره اداء ئې د نظر ، په زړه خوښۍ راولي
د شنه چمن مسته هوسۍ ده د حیا فرشته

په ترنم کې د غږ ،روح ته ،زندګي ورکوي
د موسیقي د ملک شهۍ ده ، درنا فرشته

د تن له عطرو ئې وږمه د پسرلي اخلي ساه
تړلۍ کان د خوشبوئۍ ده ، د بقا فرشته

هره غمزه ئې ددو سترګو ،یو زر غشي ولي
د شنه اسمان سخته ږلۍ ده د بریښنا فرشته

ځمکه اسمان ئې دښکلا د جلوو لمر نیولی
د ټولو حورو شهزادګۍ ده، ددنیا فرشته

زمریه پام چې د هوس په دام ئې کینوځې
د پښتنې مینی زمرۍ ده،او زما فرشته

۱۹۹۹/۵/۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

عرش

مینه ژوند کې د انسان ، یـــو خزانه ده
دا د ټولو زیـــورونو دُردانـــه ده
د احساس او عاطفې د اسمان عرش دی
د خوښـــیو او غــمـــونو تازیانه ده

۱۹۹۹/۶/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کاله اور

مینه څه ده ؟د ژوندون د کـــاله اور ده

بې له مینې د انسان زړه سوی سکور ده

یا د اور او د کـــنګل یوه ټوټـه ده

یا د تورو تیارو تل کې یو زوړ ګور ده

۱۹۹۹/۶/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه څه ده

مینه حسن ده ، وفا ده او ښکلا ده
مینه شور د زندګي ده او رڼا ده
د غرور او د غیرت د تاج الماس دی
مینه نن، مینه پرون، مینه سبا ده

۱۹۹۹/۶/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه

مینه گل ده ، په گــلــزار د سړیتوب

مینه لــمر ده په سهـــار د سړیتوب

مېنه گنج ده چې بها ئې مونده نه شي

نه خر څیږي په بــازار د ســـړیتوب

۱۹۹۹/۶/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوبو تصویر

ته لکه غوټۍ د حــیا شنــــو پاڼو کې پــټه ښــه
زه د تا په عشق کې لکه ګل غوندې رسوا خوشحال

ته زما دزړه صدف کې، ښکلې مــرغـــلره ئــې
زه دې پـــه بـــازار د محبت کې په سودا خوشحال

ته بله ډيوه ، د شيشې منځ کې تل رڼــه واوسې
زه لـــکه پتنګ دې پـــه طواف او په رڼا خوشحال

ته پښتنه ناوې ، د عفت شـــالـوکـــې پټه ئې
زه لکه مـــاشـــوم دې ددیـــدار په تمنا خوشحال

ته د اسمان ستورې، رسيدل درته مهال بريښي
زه ورک مسافر ،دې په جلوواو پـــه ځلا خوشحال

ته لکه ايمان مې ، د وجود په ذ روبـــره ئـــې
زه د عشق عاصي دې په وعده دنـــن سبا خوشحال

ته ئې داوبو تصوير ، چې لاس دروړلی نه شمه
زه دوصال تـــږی ،په سراب يم د ســـارا خوشحال

ته لکه هوسۍ د تـــرئیـــدلـو او ښکلا مثال
زه لـــکه زمـری دې د خـــرام پــــه تماشا خوشحال

۱۹۹۹/۶/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

لټون

زه به وای مجنون که می لیلا چیرته مونـــدلې وای
یا می د جنون سیاله سارا چیرته موندلې وای
زه به د یـــما په خیر پـــاچـــا د آریـــانـــا ومه
جام ته مې د مینې که سوما چیرته موندلې وای
وخته چې په غاړه تا کچکول د ګـــدایۍ راکـــړ
کاش ! دې کوږ قامت ته مې امسا چیرته موندلې وای
ژونده ! ته به وریت وی د حسرت په تناره کې اوس
سوز ته د ارمان مې که ژړا چیرته موندلې وای
زه به د رسره ومه تـــر مـــرګـــه د زمري بخته
تا کې مې که څه لویه خطا چیرته موندلې وای

۱۹۹۸/۳/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اندیښنو لړی

شپه دې د زلفو سلسلو اوږده کړه
که ما په دې ښکلو قصو اوږده کړه
شم له دې نیم نفس ژوندون نه لوګی
چې ستا ارزو ئې په کلو اوږده کړه
یو غمزه وه ،د ښو له شانه
چې ئې لړی د اندیښنو اوږده کړه
کومې اداء ته دې قیامت وو ایم؟
ورځ خو د مخ ، په پلوشو اوږده کړه
نه مړیدم دې ،په دیدن باندې زه
چې مې خبره په ورو ورو اوږده کړه
زمریه !سترګې له دنیا نه پور کړه
لحظه د وصل په کتو اوږده کړه !

۱۹۹۹/۶/۲۱

د مراد څرک

له حسده لیونی شم ائینې ته
چې نیولی ئې په غیږ کې ستا تصویر دی
حسنه تا دا شور ما شور په دنیا جوړ کړ؟
که شکولی مې مجنون عشق ځنځیر دی
نظر څنګه لار پیدا کړي ستا لیمو ته؟
چې مدهوشه دې د مح رڼا ته ځیر دی
دا د مشکو قافله په دې لار راغله؟
که خرام کې چیرته بیا زما نخچیر دی؟!
چې په هر قدم کې، سل ځایه لګیږي
دا زما په تندي لیک، څنګه تقدیر دی؟
د مرام په غره به، څرک د مراد وشي
هسی نه چې بې پایانه دا شوګیر دی

۱۹۹۹/۶/۲۵

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library